بسم الله الرحمن الرحيم

جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

ستره محکمه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ،که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړی، نړی والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۱۰ لړم ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۰ جمادی الأولی ۱۴۴۸ هـ ق | ۱ نومبر ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۵۱)

د سترې محکمې د اداري مرستيال په مشری د محاکمو د اداري چارو د لا ښه والي په موخه غونډه وشوه

د سترې محکمې د اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب په مشری، د سترې محکمې د اداري رياستونو د ټولو رئيسانو په ګډون، د چهارشنبې په ورځ (۱۴۴۸/۵/۹هـ ق) نېټه د محاکمو د اداري چارو د لا بهبود، همغږی، د تقويې او مرکزي رياستونو د اړتياوو د پوره کولو په موخه غونډه وشوه.

يادې غونډې، چې د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر عمومي رئيس الحاج مولوي عبدالوکيل (حقاني)، د مالي او اداري چارو عمومي رئيس الحاج مولوي کريم الله (زاهد)، د اداري معاونيت د دفتر رئيس مولوي عبدالمتين (صميم)، د مقام د تحريراتو رئيس الحاج مولوي محمد اکبر (فريد)، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس مولوي عبدالرحيم (راشد)، د مالي او حسابي چارو رئيس ملا محمود (آخند)، د استخدام او سوانحو رئيس الحاج مفتي عبدالوارث (سعيد)، د مرکزي تميز عالي رياست د دفتر رئيس مولوي محمد سلمان (خاورين)، د سترې محکمې د امنيتي قطعې قوماندان الحاج ملا عزت الله (مدثر)، د پلان او پاليسی، د دعوت او ارشاد او د قضائي تفتيش رياستونو استازو په کې ګډون درلود، د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه.

ورپسې د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب خبرې وکړې، د همغږی ناستو د جوړېدو موخه يې د چارو د لا ښه والي، د شته ستونزو د تشخيص او د هغو لپاره د مناسبو حل لارو موندل وبلل او زياته يې کړه، چې د دغو ناستو ترسره کولو په اصل کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د حکم تطبيق دی.

نومورې څرګنده کړه، چې مور ته راکړل شوې دنده امتياز نه؛ بلکې ستر او درانه مسئوليتونه دي، چې هر مسئول يې بايد په پوره صداقت او ژمنتيا ترسره کړي.

د سترې محکمې اداري چارو مرستيال زياته کړه، د دې اداري مسئولينو او منسوبينو ته ټاکل شوي معاشونه او امتيازات د ولس د خدمت او د هېوادوالو د چارو د ښه او پر وخت ترسره کولو په بدل کې ورکول کېږي؛ له همدې امله، هر مسئول او کارکوونکی مکلف دی، چې د خلکو د خدمت لپاره په پوره ژمنتيا هڅې وکړي، خپلې دندې په مسئولانه ډول ترسره او چارې په ټاکلي وخت بشپړې کړي.

محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب د اداري وسايلو او امکاناتو د کارونې په اړه ټينګار وکړ، چې د اداري ټول امکانات، لکه مېزونه، څوکۍ، کمپيوټر، برېښنا، نقليه وسايط او نور اړين وسايل د کارکوونکو په واک کې د امانت په توګه ورکړل شوي دي، چې له دغو وسايلو او امکاناتو څخه بايد په پوره احتياط، مسئوليت‌پالنې او د هېوادوالو د خدمت په موخه استفاده وشي او له بې‌ځايه لګښتونو، اسراف او بې‌پروايی څخه په کلکه ډډه وشي.

د ناستې په جريان کې د اړونده رياستونو رئيسانو او استازو لخوا د غونډې د اجنډا د موضوعاتو مطابق بحث وشو او په اړه يې لازمې پرېکړې وشوې.

ياده ناسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.



د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست د جزا دېوان عمومي رئيس د (۸) جزائي دوسيو په اړه د وروستيو څېړنو د بشپړولو په موخه درېيو ولايتونو ته رسمي سفر وکړ

د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (دروېش)، د مفتي محمد (حصين) او مفتي عبدالرحمن (مفتي‌زاده) په ملتيا، د ۱۴۴۸هـ ق کال د جمادی الأولی مياشتې په ۱۴مه، ۱۵مه او ۱۶مه نېټه، د (۸) جزائي دوسيو په اړه د وروستيو تحقيقاتو بشپړولو په موخه لغمان، کونړ او ننګرهار ولايتونو ته رسمي سفر وکړ.

د جزا دېوان عمومي رياست پلاوي د دغه سفر په ترڅ کې د يادو ولايتونو د مرافعه محاکمو له مسئولينو او قضائي منسوبينو سره وکتل؛ د جزائي قضيو د حل او فصل او د قضائي اجراآتو د لا ښه والي په اړه يې ورسره مفصلې خبرې او بحثونه وکړل.

همدارنګه، د جزا دېوان عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي په دغه سفر کې، د جزائي موضوعاتو اړوند (۸) دوسيې وڅېړلې، د دوسيو له طرفينو سره يې ليدنې وکړې، د قضيو د بشپړې ارزونې په موخه يې تري لازم تحقيقات وکړل او هغوی ته يې د سولې ترغيب ورکړ.

د يادو دوسيو له ډلې، په لغمان او کونړ ولايتونو کې د دوو دوسيو طرفينو د سترې محکمې د دغه لوړ پوړي پلاوي په ترغيب، په خپله خوښه او رضاء سره سولې ته غاړه کېښوده او اړوند موضوعات يې د وروستي حل او اصلاحي پرېکړې په موخه مصلحينو ته راجع شول.

په دې سربېره محترم مفتي عتيق الله (دروېش) او ورسره مل پلاوي د يادو سفر پر مهال د کونړ له والي محترم مولوي قدرت الله (ابو حمزه) سره هم وکتل، له محاکمو سره د کونړ ولايت مقام همکاري او همغږي يې وستايله او له نومورې يې په دې برخه کې د غوره همکاری له امله مننه وکړه.

د کونړ والي محترم مولوي قدرت الله (ابو حمزه) د سترې محکمې دغه لوړ رتبه پلاوي ته ډاډ ورکړ، چې ټولې ولايتي اداري د تل په څېر له محاکمو سره هر ډول اصولي همکاری ته ژمنې دي او په دې برخه کې به لا ډېرې هڅې وکړي.

د لغمان، کونړ او ننګرهار ولايتونو د مرافعه محاکمو رئيسانو، قضائي منسوبينو او د دوسيو طرفينو د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست د جزا دېوان عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي د سفر هرکلی وکړ او وويل، د سترې محکمې د مسئولينو دغه ډول سفرونه د يادونې وړ ده، چې د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست د جزا دېوان عمومي رئيس له دې مخکې هم د ملک ډېرې ولايتونو ته د جزائي موضوعاتو په اړه د وروستيو تحقيقاتو د بشپړولو، د جزائي موضوعاتو له طرفينو سره د ليدنو او له هغوی څخه د لازمو تحقيقاتو په موخه سفرونه کړي دي.

د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته
د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:
۲۶مه برخه:

د دوی دواړو په زمانه کې واک له غير عادلو کسانو سره و؛ نو ځکه دوی ويل، چې قاضي بايد د شاهدانو د حال په تړاو پوښتنه وکړي، چې خپل خصم يې طعن وربانديې کړی او که نه. په درر الحکام کې يې ويلي: کله چې د اختلاف سبب د زمانې له بدلون څخه سرچينه اخيسته؛ نو د امامانو په قول د عمل وشي، لکه د عدالت په ظاهر د پرېکړې کولو په موضوع کې. په الدر المختار کې وايي: له حد او قصاص پرته په نورو قضيو کې دې د هغه شاهد د حالت پوښتنه نه کېږي، چې طعن نه وي وربانديې؛ خو د دوی دوو امامانو په نظر، که د شاهد حالت پټ و، بايد په هره قضيه کې يې پوښتنه وشي؛ په آزاد انسان، ښکاره او په پټه او په همدې قول باندې فتوا ده؛ ځکه دوی دواړه په ځلورمه پېړۍ کې وو؛ خو که يوازې په پټه يې پوښتنه وشي، روا ده او په سراجيه کې هم همدارنګه راغلي او فتوا هم وربانديې ده.

اخذليک: د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۱مه صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او ډیوانونو د مسئولینو لپاره د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ اصلاحي غونډه وشوه

د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او ډیوانونو رئیسانو، قاضیانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو لپاره، د سه‌شنبې په ورځ (۱۵ /۵ / ۱۴۴۸هـ ق) نېټه د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ اصلاحي او مذاکراتي غونډه وشوه.

په دې اصلاحي او مذاکراتي ناسته کې، چې د سترې محکمې د مرکزي ډیوانونو او ریاستونو ټولو رئیسانو، قضائي غړو او آمرینو په کې ګډون درلود، د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست د مدني ډیوان رئیس محترم شیخ محمد قسیم (محمدي) صاحب ګډونوالو ته د عدالت د تأمین، مستحقو او اهل کسانو ته د امانت د سپارلو او نورو مواردو په اړه ګټور تفصیلي بیان وکړ وویل، د نبي کریم (صلی‌الله علیه وسلم) د صحیح حدیث په اساس، مورِ ټول د خپل رعیت پر وړاندې مسئول یو او په دې اړه له مورِ ټولو پوښتنه کېږي.

محترم شیخ محمدي صاحب زیاته کړه، الله تعالی په خپل مبارک کلام کې مورِ ته امر کړی، چې د خلکو ترمنځ په عدالت پرېکړې وکړو؛ ځکه عدالت د ټولنې د نېکمرغۍ له اساسي لارو څخه دی؛ په کومه ټولنه کې چې عدالت تأمین وي، د خلکو حقونه خوندي وي او وګړي یې له فکري او ذهني سکون څخه برخمن وي.

دغه راز، د سترې محکمې د مرکزي تمیز اړوند د مدني ډیوان رئیس وویل، د ټولنې د نېکمرغۍ دویم راز په امانتداري کې نغښتی دی او الله تعالی مسلمانان مکلف کړي، چې امانتونه خپل اهل او حقدارانو ته وسپاري.

شیخ صاحب د امانتداري د ډولونو په اړه څرګنده کړه، چې امانتداري په درېیو اساسي برخو وېشل کېږي: د الله تعالی پر وړاندې امانتداري، د بندګانو پر وړاندې امانتداري او د خپل نفس پر وړاندې امانتداري.

د نومورې په وینا، د الله تعالی پر وړاندې امانتداري دې ته وایي، چې د هغه ټول اوامر په پوره اخلاص او صداقت ترسره او له هغو اعمالو څخه ډډه وکړو، چې الله تعالی ترې منع کړي یو؛ د خلکو پر وړاندې امانتداري داده، چې د هغوی حقوق وساتو او د هېڅا حق تر پښو لاندې نه کړو.

شیخ صاحب زیاته کړه، د خپل نفس پر وړاندې امانتداري دې ته وایي، چې د بدیو او ناروا غوښتنو پر وړاندې په ټینګ عزم ودرېږو او د نفس هغه غوښتنې ونه منو، چې د انسان د تباهۍ او هلاکت لامل ګرځي.

یاده ناسته په دې اړه له تفصیلي بیان وروسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د بدخشان ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې محترم مقام په هدایت د قضائي پلټنې د عمومي ریاست یوه مؤظف پلاوي د یاد عمومي ریاست مرستیال محترم حافظ مولوي عبدالولي (محمود) په مشرۍ؛ چې مولوي رحمان الدین (ایشان)، مولوي فلک شېر (حقاني) او مولوي محمد (جلالي) یې غړیتوب درلود، د روان ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په دویمه نېټه بدخشان ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړلو په موخه سفر وکړ.

د لیدنې په پیل کې یاد هیئت د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د بدخشان ولایت له مرکزي زندان او توقیف‌خونې څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس او توقیف‌خونې اړوند نارینه‌وو، ښځینه‌وو او ماشومانو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او اړتیاوې یې له ځان سره یادښت او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

هیئت د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت (۲۷) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، د حقوقو مدیریتونو، د بنارې او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د اسنادو، مخزن، وثایقو او حقوقو آمریتونو، اختصاصي او نظامي محاکمو څخه جلا جلا لیدنه وکړه.

نومورې هیئت د پلټنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي او اداري چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخېستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

دغه راز یاد هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نېمګړتیاوې له ځان سره یادداشت او په پای کې یې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او د نېمګړتیاوو د اکمال په اړه د بدخشان ولایت د مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او اړونده ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په جریان کې د یاد ولایت د ولسوالیو له ځینو مسئولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د پلټنې هیئت یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۸هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۵مه نېټه پای ته ورسېد.

محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۳) دوسیه، به تعداد (۱۵۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت پروان طی دو هفته از تاریخ (۲۷ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۱۰ /۵ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۸۳) دوسیه، به تعداد (۱۵۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

در بخش حقوقی:

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به تعداد (۵۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش جزائی:

در جریان دو هفته به تعداد (۸۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به تعداد (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۲) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۵۴) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۲) دوسیه، به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت سمنگان طی دو هفته (از ۲۷ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۱۰ /۵ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۰۲) دوسیه، به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

در بخش حقوقی:

در جریان دو هفته به تعداد (۹۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش جزائی:

در جریان دو هفته به تعداد (۷۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

د روژګان ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۴۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۶۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د روژګان ولایت مرافعه، بناري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق) نېټې پورې (۳۴۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۶۶) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

په حقوقي برخه کې:

په حقوقي برخه کې د (۴۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

په جزائي برخه کې د (۵۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۳) دوسیې فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د روژګان ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۶۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

د کابل بنار د سندونو او وثیقو د ثبت اوو (۷) آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۰۸۷) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل بنار د سندونو او وثیقو د ثبت اوو آمریتونو په دوو اونیو کې (له ۱۶ /۴ /۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۱۰۸۷) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

۱ - د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزې په دوو اونیو کې (۸۳) نکاح خطونه، (۶۵) قبالې، (۴) زوجیت خطونه او (۵۸) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۲ - د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۴۴) نکاح خطونه، (۱۱) قبالې، (۶) زوجیت خطونه او (۷۸) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۳ - د سندونو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت دریمې حوزې په دوو اونیو کې (۸۱) نکاح خطونه، (۵) قبالې، (۱۷) زوجیت خطونه او (۱۰۳) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۴ - د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۱) نکاح خطونه، (۱۵) قبالې، (۸) زوجیت خطونه او (۳۴) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۵ - د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۶۲) نکاح خطونه، (۱۳) قبالې، (۱۲) زوجیت خطونه او (۶۶) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۶ - د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۸۶) نکاح خطونه، (۱۰) قبالې، (۶) زوجیت خطونه او (۵۴) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۷ - د سندونو او وثیقو د ثبت اوومه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت اوومې حوزې په دوو اونیو کې (۴۴) نکاح خطونه، (۳) قبالې، (۳) زوجیت خطونه او (۴۵) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

د زابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۸۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۹) وثیقې هم اجراکړې دي

د زابل ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ / ۴ / ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ / ۴/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۳۸۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۹) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

په حقوقي برخه کې:

د زابل ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۹۵) حقوقي دوسیې راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

د زابل ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۱۷۲) جزائي دوسیې راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۶) دوسیې فیصله شوې، (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د زابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۸۹) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۹۸۳) دوسیه، به تعداد (۵۹۸) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت بغلان طی یک ماه (از ۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۹۸۳) دوسیه، به تعداد (۵۹۸) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

در بخش حقوقی:

در جریان یک ماه به تعداد (۵۸۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۸۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶۰) دوسیه فیصله شده، (۵۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش جزائی:

در جریان یک ماه به تعداد (۲۶۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۷۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۸) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۵۹۸) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۷۹۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۳۲) وثیقې هم اجراکړې دي

د هلمند ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ /۴/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ /۴/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۷۹۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۳۲) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

په حقوقي برخه کې:

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۱۳) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۲۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۶۰۱) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۲۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۶) دوسیې فیصله شوې، (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۳۲) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۵۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۷) وثیقې هم اجراکړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د پکتیا زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۵۵۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۷) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

په حقوقي برخه کې:

په یوه میاشت کې (۲۶۷) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

په تېره یوه میاشت کې (۲۶۰) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۲۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۶۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۸۷) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۰۳۸) دوسیه، به تعداد (۵۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت تخار طی یک ماه (از ۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۰۳۸) دوسیه، به تعداد (۵۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

در بخش حقوقی:

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۵۹۲) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۳۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶۰) دوسیه فیصله شده و (۵۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

در بخش جزائی:

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۴۶) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۱۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳۸) دوسیه فیصله شده و (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

در بخش وثایق:

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۵۵۳) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۴۲) وثیقې هم اجراکړې دي

د لوګر ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق) نېټې پورې (۳۰۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۴۲) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

په حقوقي برخه کې:

په یوه میاشت کې (۲۸۴) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۳) دوسیې فیصله شوې، (۳۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

په جزائي برخه کې:

په یوه میاشت کې (۱۳۵) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۴۲) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

محاکم ولایت بامیان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۶۹) دوسیه، به تعداد (۱۷۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت بامیان طی یک ماه (از ۱/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۶۹) دوسیه، به تعداد (۱۷۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

در بخش حقوقی:

در جریان یک ماه به تعداد (۱۴۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۰) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش جزائی:

در جریان یک ماه به تعداد (۱۲۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۸) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۱۷۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

مسئول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيرې

د افغانستان اسلامي امارت درې ګونو محاکمو په تېرو شپږو مياشتو کې د شرعي احکامو په رڼا کې (۱۵۷۱۲۳) قضيو ته رسېدنه کړې او (۸۶۳۲۲) بېلابېلې وثيقې يې هم اجرا کړې دي

د ترلاسه شويو معلوماتو له مخې، له يادو قضيو څخه (۱۳۵۰۹۷) په ابتدائيه، (۱۶۱۳۹) په مرافعه او (۵۸۸۷) په تميز محاکمو کې څېړل شوې دي.


په دغو قضيو کې د ميراث اړوند (۷۷۷۸) او د نشه‌يي توکو او مسکراتو اړوند (۹۷۰۴) قضيې هم شاملې دي.

همدارنګه، په تېرو شپږو مياشتو کې د محاکمو د مسئولينو د هڅو او د سپين‌ږيرو، قومي مخورو او علماء کرامو په منځګړيتوب، د قتل (۲۵۱) دوسيې د سولې او جوړجاړې له لارې حل او فصل شوې دي.

د يادونې وړ ده، چې يوازې د روان هجري شمسي کال په دويمه ربعه کې (۲۱۵۴۸) قضيې په ابتدائيه، مرافعه او تميز محاکمو کې قطعي او نهايي فيصله شوې دي.

دا شمېرې د قضايي خدمتونو د وړاندې کولو، د خلکو د شرعي او حقوقي موضوعاتو د حل او فصل، د وثيقو د اجراء او د شخړو د سوله‌ييز حل په برخه کې د محاکمو د فعاليتونو خرګندونه کوي.

سټره محکمه تل هڅه کوي او دا خپل مسئوليت ګڼي چې د شرعي احکامو په رڼا کې د خلکو شرعي او حقوقي قضيو ته پر وخت رسېدنه وکړي، د حقونو او عدالت تأمين وکړي.



د سترې محکمې د نقليه وسايطو د ترميم معياري ورکشاپ او د تېلو ټانک ګټې اخيستنې ته وسپارل شول

د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رياست په هڅو، د سترې محکمې د مسئولينو او منسوبينو د نقليه وسايطو د ترميم او د تېلو او روغنياتو د اړتياوو د پوره کولو په موخه، په عصري او معياري وسايلو سمبال ورکشاپ او د تېلو ټانک د کابل ښاري ابتدائيه محکمې پارکېنګ ته انتقال او د سه‌شنبې په ورځ، (۱۵ /۵ /۱۴۴۸هـ ق) نېټه د ګټې اخيستنې په موخه پرانيستل شول.

د ياد معياري ورکشاپ او تېلو ټانک د پرانيستې او ګټې اخيستنې ته د سپارلو په مناسبت جوړه شوې ناسته کې، د سترې محکمې اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله (سعيد) صاحب، د مالي او اداري چارو عمومي رئيس الحاج مولوي کريم الله (زاهد)، د مالي او حسابي چارو رئيس ملا محمود (آخند) او د سترې محکمې يو شمېر نورو مسئولينو او منسوبينو ګډون کړی و.

د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رئيس الحاج مولوي کريم الله (زاهد) د ياد ورکشاپ او تېلو ټانک په اړه وويل، چې دغه شعبې د سترې محکمې د عالي مقام د هدايت له مخې، د محاکمو د مسئولينو د نقليه وسايطو د پر وخت ترميم او د تېلو او روغنياتو په برخه کې د هغوی د اړتياوو د پوره کولو په موخه د کابل ښاري ابتدائيه محکمې پارکېنګ ته انتقال شوې دي.

نوموړي زياته کړه، چې د نقليه وسايطو د ترميم ياد ورکشاپ په ټولو اړينو او عصري وسايلو سمبال شوی او د سترې محکمې او محاکمو د مسئولينو د نقليه وسايطو د ترميم لپاره په کې لازم امکانات برابر شوي دي.

د مالي او اداري چارو عمومي رئيس خرګنده کړه، چې د يادو شعبو په فعالېدو سره به د نقليه وسايطو د ترميم چارې په ټاکلي وخت او معياري ډول ترسره شي او د تېلو او روغنياتو اړوندې اړتياوې به هم په منظم ډول تنظيم او پوره شي.

د غزني ولايت مقر ولسوالۍ ابتدائيه محکمې مسئولينو په هڅو د قتل دوه موضوعات حل او فصل شول

د غزني ولايت مقر ولسوالۍ ابتدائيه محکمې رئيس او غړو په ترغيبي هڅو؛ د امنيه قوماندانۍ د مسئولينو، د سيمې د قومي مشرانو او علماوو په منځګړيتوب، د ۱۴۴۸هـ ق کال د جمادی الأولی مياشتې په ۱۳مه او ۱۴مه نېټه د قتل دوه بېلا بېل موضوعات حل او فصل شول.

دغه موضوعات، چې د ترافيکي پېښو له امله رامنځته شوي وو؛ ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شول، د قضيو طرفين سولې ته وهڅول شول او دوی هم ومنله.

په يادو موضوعاتو کې د مقتولينو وارثينو ته څه اندازه پيسې ورکړل شوې او موضوعات يې رسمًا پای ته ورسېدل.

با تلاش رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی رخه ولایت پنجشیر یک قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش مولوی اسدالله (رائد محمودی) رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی رخه ولایت پنجشیر و اعضای قضائی شان با اشتراک ولسوال، علماء کرام و متنفذین آن ولسوالی، به تاریخ ۸ /۴ /۱۴۴۸ هـ ق طی نشست یک قضیه قتل حل و فصل گردید.

در این نشست بین جانبین مصالحه صورت گرفت، هر دو جانب قضیه به یک دیگر عفوه نمودند و تعهد کردند که در حال و آینده با هم دیگر هیچ نوع دعوی نخواهند داشت.


د زابل ولايت مرافعه محکمې د مسئولينو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د زابل ولايت د مرافعه محکمې مسئولينو او د حقوقو آمريت د استازو د هڅو په پايله کې، په ۲/ ۵/ ۱۴۴۸ هـ ق نېټه د ياد ولايت د شاجوی ولسوالۍ په «شهبار» سيمه کې رامنځته شوې د قتل موضوع حل او فصل شوه.

ياده موضوع د مرافعه محکمې او حقوقو آمريت د مسئولينو له‌خوا د حل او فصل په موخه وڅېړل شوه.

د اړوندو مسئولينو د هڅو په پايله کې د مقتول وارثينو د قاتل د بخښنې پرېکړه وکړه او په دې توګه د يادې موضوع د حل لپاره زمينه برابره شوه.

د يادونې وړ ده، چې مرافعه محکمه د خلکو ترمنځ د شخړو د حل، د هغوی د حقونو د تأمين او د ټولنيز ثبات په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکوي، څو د شرعي اصولو په رڼا کې د خلکو ستونزو ته رسېدنه وشي.



حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله‌تعالی در خصوص تعیین اوقات کاری محاکم

شماره: ۱/ج/۴۹۴
تاریخ: ۱۴۴۳/۹/۴۲ هـ ق

حکم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) در خصوص تعیین اوقات کاری محاکم

بسم الله الرحمن الرحیم

با توجه به این‌که اکنون شرایط نامناسب پایان یافته و امارت اسلامی افغانستان در سراسر ملک به‌طور کامل حاکمیت دارد، اوقات کاری تمام محاکم تمیز، دیوان‌ها، مرافعه و ابتدائیه امارت اسلامی افغانستان به شرح ذیل تعیین می‌گردد:

در شش ماه اول سال (از اول ماه حمل الی ختم ماه سنبله) از روز شنبه الی چهارشنبه، اوقات کاری از ساعت هشت (۸:۰۰) صبح الی چهار (۴:۰۰) بعد از ظهر تعیین گردیده‌است؛ برای صرف طعام و ادای نماز، از ساعت دوازده (۱۲:۰۰) ظهر الی یک (۱:۰۰) بعد از ظهر وقفه در نظر گرفته شده‌است.

همچنان، اوقات کاری روزهای پنج‌شنبه از ساعت هشت (۸:۰۰) صبح الی یک (۱:۰۰) بعد از ظهر، بدون وقفه تعیین می‌گردد.

در ماه مبارک رمضان از روز شنبه الی پنج‌شنبه، از ساعت هشت (۸:۰۰) صبح الی یک (۱:۰۰) بعد از ظهر، بدون وقفه تعیین می‌گردد.

در شش ماه دوم سال (از اول ماه میزان الی ختم ماه حوت) از روز شنبه الی چهارشنبه، از ساعت هشت و نیم (۸:۳۰) صبح الی سه و نیم (۳:۳۰) بعد از ظهر؛ برای صرف طعام و ادای نماز، از ساعت دوازده (۱۲:۰۰) ظهر الی یک (۱:۰۰) بعد از ظهر وقفه در نظر گرفته شده‌است. همچنان، اوقات کاری روزهای پنج‌شنبه از ساعت هشت و نیم (۸:۳۰) صبح الی یک و نیم (۱:۳۰) بعد از ظهر، بدون وقفه تعیین می‌گردد.

بناءً، تمام محاکم تمیز، دیوان‌ها، مرافعه و ابتدائیه امارت اسلامی افغانستان مکلف‌اند امورکاری خویش را مطابق اوقات تعیین شدهٔ فوق تنظیم نمایند؛ همچنان، مکاتیب قبلی‌ای که با این حکم مغایرت دارند، ملغی و غیر قابل اجراء می‌باشند، این حکم به صورت متحدالمآل به تمام محاکم ارسال گردد.

والسلام

مقام رهبری امارت اسلامی افغانستان

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : سټره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc۱۴۴۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳